**کابل: د دسمبر یولسمه ۲۰۱۲ کال** – په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په یو را پور کې چې نن خپور شو وویل افغان چاروکو د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په پلی کولو کې چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی مرتکبین عدالت ته راکاږی پرمختګ کړی دی. مګر د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي د ډیرو پیښو د نه څیړلو او کم راپور ورکولو له کبله د دغه مهم قانون پلي کولو مخنوی شوی دی.

د دولسو میاشتو په موده کې (د ۲۰۱۱ کال له اکتوبر څخه بیا د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پوری) راپور دواړه هم مثبت پرمختګ او هم دوامداره ننګوني د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په پلی کولو کې د قانون تطبیق کوونکو ادارو او قضا له لوري موندلي. که څه هم څارنوالان او محکمي په زیاتیدونکی توګه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ډیرو پیښو کې چې راپور یې ورکړل شوی دغه قانون تطبیق کوي؛ مګر په عمومي توګه د دي قانون نه ګټه اخستنه کمه وه، او دا په ګوته کوي چې په افغانستان کې له تاوتریخوالی څخه د قانون په واسطه د ښځو او انجونو په بشپړه توګه ساتلو لپاره یوه اوږده لاره په مخ کې ده.

“ که چیرته هغه پرمختګونه چې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی قانون په پلی کولو کې تثبیت شوي پراخ او قوي شی نو افغان ښځې به ځواکمني شي ترڅو په سیاسی ژوند او سوله راوستلو کې فعاله ونده واخلی“ جان کوبیس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشی خاص استازی او د یوناما مشر وویل. “ د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په پلی کولو کې پرمختګ په دوامداره توګه په افغانستان کې د ښځو په وړاندی ناوړه دودونه په ګوته کوي چې د اوږدی مودي لپاره یې ښځې په عامه ژوند کې د برخي اخستلو څخه منع کړي؛ او د دی لامل شوي چې د دوي غږ د تصمیم نیولو او سولی او بیا پخلاینې په پروسه کې وانه وریدل شي“.

د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون چې په ۲۰۰۹ کال کې تصویب شو د ماشومانو ودول، جبری ودونه، د ښځو خرڅول او اخستل یا د واده په بهانه، د ښځو په بد کې ورکول ( ښځه یا نجلی د شخړی د حل کولو په مخه ورکول)، په جبر باندی قربانی کول او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی ۱۷ نور عملونه، د زبر زنا او وهلو په شمول، غیری قانونی وپیژندل. دغه قانون همدارنګه د مرتکبینو لپاره جزاګانی مشخصی کړي.

یوناما په خپل ۴۲ مخه راپور کې چې عنوان یې دی ـ *د تګ لپاره اږده لار په مخکې: په افغانستان کې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون پلی کول* ـ چې د ۲۰۰ سلامشورو په بنسټ چې له قضایی چاروکو، پولیسو او حکومتی چاروکو سره شوي، او په ټول افغانستان کې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د پیښو په اساس چې د یوناما لخوا یې د دولسو میاشتو په موده نظارت ترسره شوي؛ چمتو شوی دی. د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه له ۲۲ ولایتونو څخه معلومات د ثبت شویو او راپور ورکړل شویو پیښو په اړه، او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون د تطبیق او قضایی پروسی د پرمختګ چې په ۱۶ ولایتونو کې پولیسو، څارنوالانو او محاکمو د ښځو د تاوتریخوالی د پیښو زیات معلومات برابر کړي دي؛ را غونډ شوي دي. راپور همدارنګه د ښځو چارو د ولایتی ریاستونو او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د له منځه وړلو کمیسونونو کار او رول څیړی.

د کلتوری محدودیتونو، ټولنیزو نورمونو او بد بللو، عنعنوی کړنو او مذهبی عقایدو، د ښځو په وړاند تبعیض چې د ښځو په وړاندی تاوتریخوالی ته لاره هواره وی، د ټولنیز ننګ او محرومیت څخه ویره او په ځینی

وختونو کې د مرګ ګواښونه هغه لاملونه دي چې اوس هم د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د زیاتو پیښو د نه راپور ورکولو لامل کیږي. سربیره پردي، دوامداره ناامنی او د قانون د حاکمیت ضعیفوالی رسمی قضایي ادارو ته د ښځو لاسرسي مخنیوي کړی دی. هغه پېښي چې د قانون تطبیق کوونکو مقاماتو پوره رسیږی یا هم د شدید والی له کبله عامه پاملرنه ځانته اړوي په ټول هیواد کې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د پیښو یوه نمونه په ګوته کوي.

په هر صورت، راپور د دی یادونه کوي چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د پیښو څخه ځینو ادارو ته لکه د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسون او د ښځو چارو ولایتی ریاستونو ته زیات راپور ورکړل شوی دی. په راپور ورکونه کې دغه ډیرښت یوه تشویق کوونکی نښه ده چې د مدنی ټولنی د سازمانونو، حکومت او نړیوالو ادارو هڅي، د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی، د هغه ناوړه او جزایي نتایجو او په عمومی توګه د ښځو د حقوق حساسیت په اړه عامه پوهاوی ډیر کړی دی.

په ۱۶ ولایتونو کی چیرته چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی دمنع قانون د پلی کولو په اړه زیات معلومات شتون درلود؛ پولیسو او څارنوالانو د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی ۴۷۰ پیښی ثبت کړي دي. که چیرته د یوناما د ۲۰۱۱ کال د نومبر د میاشتی له موندنو سره پرتله شي، دا د هغو پیښو ډیرښت په ګوته کوي چې د پولیسو او څارنوالانو لخوا ثبت شوي دي . د ۴۷۰ پیښو له مجموعی څخه څارنوالانو ۱۶۳ پیښو لپاره صورت دعوي ترتیب کړي دي چې ۱۰۰ قضي يي په محاکمه کې په محکومیت نتجی ته رسیدلی (د کامیابی اندازه ۶۱ فیصده) دي. د ۱۶۳ صورت دعوو څخه ۷۲ صورت دعوی (۴۴ فیصده) د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په بنسټ تیاري شوې دي. د ۷۲ صورت دعوو څخه چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په اساس برابري شوي ۵۲ صورت دعوي په محاکمه کې په محکومیت نتجی ته رسیدلي. دا په ډاګه کوي چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د پیښو په کم شمیر پیښو کې چې څېړل شوي او محکمي ته حواله شوي د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون څخه ګټه اخستنه د دی لامل شوي چې تقریبا په زیاتو پیښو کې قضیه په محکومیت نتجي ته ورسیږي.

که څه هم څارنوالانو د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي زیاتي پیښي ثبت کړي او ابتدایه محکمو د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي د منع قانون په بنسټ د محکومیت فیصلي صادری کړي دي؛ خو که چیرته د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی له ۴۰۱۰ پیښو سره چې د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسون له لوري ثبت شوي دي محاسبه شي نو د هغو پیښو شمیر کم دی چې په ۱۶ ولایتونو کې د قضایي پروسي او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي قانون په بنسټ حل او فصل شوي دي. په عمومي توګه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي د پیښو څخه پولیسو ته راپور ورکول او ددغو پیښو ثبت کول کم وو.

راپور دا هم موندلي چې د دی په ځای چې په ټولو پیښو کې قانونی پروسیجرونه په نظر کې ونیول شي پولیسو او څارنوالیو په دومداره توګه زیات شمیر پیښی چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی جدي جرمونه هم پکښی راځي جرګو او شوراګانو ته د حل او فصل او یا مشوري اخستلو لپاره راجع کړي دي. دغه پروسه د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د منع قانون تطبیق کول کمزوي کوي او د ناوړه دودونو پلی کولو سره مرسته کوي.

" د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون نه ګټه اخستنی هرکلی کوو؛ مګر د ښځو په وړاندی د زور زیاتي له منځه وړلو کې پرمختګ به تر هغو محدود وي چې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د منع قانون په وسیع توګه تطبیق نشي، " د یوناما د بشری حقونو د څانګي مشري جورجیت ګګنن وویل. " افغان مقامات باید چې نور اقدامات ترسره کړي تر څو د دي ډاډ تر لاسه شي چې پولیس او څارنوالان د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي پېښي ثبت او څیړنه يې کوي."

د دی لپاره چې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د منع قانون پلی کول پرمختګ وکړي یوناما ۲۹ وړاندیزونه حکومت او د هغه نړیوالو ملګرو ته چمتو کړي چې له دوي څخه په ټینګه غوښته کوي چې دا باید یقینی کړي چې د ښځو د حقونو ساتنه او پرمختګ د سولي او بیا پخلاینه د هڅو، او دهیواد د سیاسی، اقتصادی او امنیتی ستراتیژیو یوه نه بیلدونکي برخه ده.

راپور په نړیوالو بسپنه ورکونکو باندي غږ کوي چې له حکومت سره مرسته وکړي ترڅو د توکیو دوه اړخیز حساب ورکونی د میکانیزم له مخی خپل تعهدات د جنسی مساوات، د ښځو تقویه کول، او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون پلی کولو په برخه کې پرځاي کړي. د دی لپاره باید حکومت د نظارت یو مشترک میکانیزم را منځته کړي ترڅو په دغو برخو کې پرمختګ و ارزوي او انکشافی کمکونه د دغو پرمختګونو له مخی په مشروط ډول صورت ونیسي.

----------------------------------------------------------------------------------------------------------------

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**